رسنیزه خبرتیا

د امریکي نړیوالي پرمختیایي اداري په افغانستان کي د ځمکو په برخه کي د اصلاحاتو یو ورکشاپ په لاره واچوه

کابل، افغانستان: د ۲۰۱۱ کال د نومبر ۲۷ - د ځمکو د خوندي حقونو ترلاسه کول او غوره ښاري خدمتونه د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالي پرمختیایي اداري (USAID) د ځمکو په برخه کي د اصلاحاتو د هغه ورکشاپ عمده موخي ګڼل کېږي چي نن په کابل کي پیل شو. د بي نقشي استوګن ځایونو اړونده پالیسیو او کړنودونو لاښه والی د افغانستان د دولت یوه مهمه دنده ده، او د بي نقشي استوګن ځایونو د چارو د لاښه والي او رسمي والي په برخه کي نوموړي ورکشاپ ټول شریک لوري سره راټول کړل څو ددي ستونزي د هواري لپاره په ګډه کار وکړي.

هغه کسان چي پدي دري ورځني ورکشاپ کي یي برخه اخیستي د دولت شاوخوا ۱۲۰ مرکزي او ولایتي چارواکي او همدارنګه د پلي کوونکو ادارو، نادولتي مؤسسو، مرسته کوونکو بنسټونو او د خصوصي سکتور یو شمېر هغو کمپنیو استازي شامل دي چي د ښاري پراختیا، د ځمکي اړوندو خدمتونو، د ځمکي او ملکیتونو د سروي، د ځمکي د قوانینو، د شخړو د هواري، د ملکیتونو د ثبت او د ځمکي د حقونو په برخه کي په کار بوختي دي.

د امریکي نړیوالي پرمختیایي اداري مرستیال جیډ بارتون د نوموړي ورکشاپ د پیل د مراسمو پر مهال وویل:"د ځمکي په برخه کي د همغږۍ دا ورکشاپ به د افغانانو سره مرسته وکړي څو د ځمکي د اجاري حقوق خوندي او په پوره توګه د یوې پراخه ټولني په سیاسي، ټولنیز او اقتصادي ژوندانه کي ونډه واخلي."

ددي ورکشاپ ګډونوال یو له بل سره په ګډه کار کوي څو د استوګن ځایونو د رسمي کولو د بهیر په ټاکلو او ساده کولو کي سره مرسته وکړي څو ښاروالي وکړای شي چي ملکیتونه ثبت او د مالیاتو سیستم آسانه او په بدل کي خلکو ته د هغوی د اړتیا وړ آساسي خدمتونه او بنسټیزه کارونه ترسره کړي. د سیمه ایزو ارګانونو د خپلواکي اداري مرستیال ښاغلی ډاکتر فرید ماموندزی د افغانستان په ټولو ښارونو کي د استوګن ځایونو د لاښه والي او رسمي کولو پر ارزښت ټینګار وکړ.

د ورکشاپ ګډونوال د فزیکي ښه والي په برخه کي د اوسنیو لارو چارو او پانګونو او همداراز د هغو غوره لارو د موندلو په اړه خبري اتري کوي چي په ټول هیواد کي د پروژو چارې لاښي کړي. دوی همدارنګه د هغو اداري او حقوقي اجراآتو په اړه د خلکو د پوهاوي د کچي د لوړوالي په برخه کي کار کوي چي د بي نقشي استوګن ځایونو د رسمي کولو، د ښارونو په رسمي پلانونو کي هغوي ته د ځای د ورکولو او د بي نقشي ځایونو د ښاري کولو د ملي پالیسی د رسمي والي لپاره د یوه پلان د توشیح لپاره اړین ګڼل کېږي.

پدي ورکشاپ کي چي په ګډه د امریکي د نړیوالي پرمختیایي اداري او د ښاري پراختیا وزارت د کابل ښار د بیارغوني د پروژې له لوري جوړ شویدی، پر هغه موضوعاتو بحث وشي چي د افغانستان د ښاري مرکزونو پر ودي، امنیت او پرمختګ باندي اغیزه کوي او همداراز دداسي حل لارو د موندلو لپاره هڅه کوي چي د دولت او ښاریانو د اقتصادي ثبات سره به مرسته وکړي.

###

د امریکي د نړیوالي پرمختیایي اداري د پروګرامونو په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره، :
http://afghanistan.usaid.gov ویبپاڼي ته مراجعه وکړئ.

The American people, through the U.S. Agency for International Development, have provided economic and humanitarian assistance worldwide for nearly 50 years.

USAID on Facebook | USAID on Twitter | USAID on YouTube | USAID on Flickr